آریانه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

شماره ۱۲۴

د افغانستان اسلامي امارت، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست، د ویاند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: جمادي الاول ۱۹مه، کال ۱۴۴۸ هجري قمري

از اصلاح جامعه تا حل منازعات و حمایت از حقوق شرعی زنان



وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات می‌گوید که محتسبین این وزارت در جریان ماه میزان سال ۱۴۰۵ هجری شمسی، در بخش‌های اصلاح امور اجتماعی، آگاهی‌دهی عامه، جلوگیری از جادوگری، حل منازعات و رسیدگی...

۲

په ننګرهار کې د دوو کورنیو ترمنځ ۲۷ کلنه شخړه هواره شوه

د ننګرهار ولایت د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو ریاست مسئولینو او سیمه ییزو قومي مخورو په کډه د دغه ولایت په هسکه مینه ولسوالۍ کې د دوو کورنیو تر منځ هغه ۲۷ کلنه شخړه د جرګې له لارې هواره کړه، چې له امله یې یو تن وژل شوی و...

۵

سرمقاله

از رسیدگی به شکایات تا تأمین عدالت؛ حمایت از حقوق شرعی زنان

رعایت حقوق شرعی زنان، جلوگیری از ظلم و تأمین عدالت در روابط خانوادگی، از اصول مهم شریعت اسلامی و از عوامل اساسی تحکیم بنیان خانواده و سلامت جامعه به شمار می‌رود. خانواده زمانی از استحکام و آرامش برخوردار می‌شود که حقوق و مسئولیت‌های اعضای آن رعایت گردد و هیچ‌کس از حقوق که شریعت برایش تعیین کرده است، محروم نماند.

بر اساس معلومات ارائه‌شده، محتسبین وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در جریان ماه میزان به ۹۳۸ قضیه مرتبط با حقوق شرعی زنان رسیدگی کرده‌اند. این قضایا شامل ظلم، نکاح اجباری، میراث، مهریه، نفقه، بد دادن دختران و طلاق بوده است؛ موضوعاتی که رسیدگی مسئولانه به آن‌ها می‌تواند در کاهش منازعات خانوادگی و جلوگیری از تضییع حقوق افراد نقش مؤثری داشته باشد.

شریعت اسلامی برای زنان در عرصه‌های مختلف، از جمله ازدواج، میراث، مهریه و نفقه، حقوق مشخصی تعیین کرده است. ازاین‌رو، هیچ رسم ناپسند یا عرف نادرستی نباید بهانه‌ای برای محروم‌ساختن آنان از حقوق شرعی‌شان قرار گیرد. نکاح اجباری و بد دادن دختران نیز از جمله مسائلی است...

۲

کمیسیون تدارکات ۱۷ پروژه را به ارزش حدود پنج میلیارد افغانی منظور نمود

جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاستالوزراء، در قصر مرمرین برگزار شد.

در این جلسه، ۲۹ پروژه برای بحث ارائه شد که پس از بحث همه جانبه، ۱۷ پروژه به ارزش حدود پنج میلیارد افغانی منظور و در پنج پروژه دیگر تعدیلات لازم تصویب گردید. همچنان، به کمیته های تعیین شده در مورد چهار پروژه وظیفه سپرده شد تا در مورد قیمت های پروژه ها با شرکت های برنده و واجد شرایط مذاکره کنند و گزارش آن را به رهبری کمیسیون تدارکات ارائه نمایند...

۵

توزیع تخم‌های اصلاح‌شده گندم و کود کیمیاوی؛ گامی در راستای افزایش حاصلات زراعتی و تقویت امنیت غذایی کشور








روند توزیع تخم‌های اصلاح‌شده بذری گندم و کودهای کیمیاوی به‌منظور حمایت از دهقانان، افزایش حاصلات زراعتی و تقویت امنیت غذایی، در چندین ولایت کشور آغاز شده و در برخی مناطق نیز ادامه دارد. این برنامه‌ها با همکاری ریاست‌های زراعت، آبیاری و مالداری، مؤسسات همکار و سازمان خوراک و زراعت ملل متحد تطبیق می‌شوند و هزاران دهقان واجد شرایط را زیر پوشش قرار می‌دهند. بر اساس معلومات ارائه‌شده، در ولایت لوگر روند توزیع این کمک‌ها برای سه هزار دهقان در مرکز این ولایت و ولسوالی‌های محمدآغه، برکی‌برک و چرخ، با همکاری مؤسسه (AWDREO) آغاز شده است...

۵

میدان وردګو کې د کرنیزو زېربناوو د پراختیا ۱۹ پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



۵

د قومونو او کورنیو ترمنځ د شخړو په حل کې د اسلامي امارت نقش

د قومونو او کورنیو ترمنځ د شخړو حل د سولې، ثبات او ټولنیز یووالي د ټینګښت له مهمو عواملو څخه دی. د افغانستان اسلامي امارت کولای شي د علماوو، قومي مشرانو، ټولنیزو مخورو او اړوندو مسئولینو په همکارۍ د شخړو په حل، د دښمنیو په مخنیوي او د خلکو ترمنځ د روغې جوړې او وروروالۍ په ټینګښت کې اغېزناک او رغنده رول ولوبوي. د اختلافاتو عادلانه حل، د ښکېلو لورو د حقونو رعایت، د غچ اخیستنې مخنیوی او بښنې، تېرېدنې او متقابل تفاهم ته هڅونه هغه چارې دي چې په ټولنه کې د تلپاتې سولې د ټینګښت زمینه برابروي. همدارنګه، د نصیحت، تفاهم او عادلانه منځګړیتوب له لارې د کورنیو د شخړو حل کولای شي د کورنیو د پاڅل کېدو او د ټولنیزو ستونزو د پراخېدو مخه ونیسي. له همدې امله، د اسلامي امارت د مسئولینو، علماوو کرامو، قومي مشرانو او خلکو ترمنځ همغږي او همکاري، د عدالت د تأمین او د ټولو لورو د شرعي او قانوني حقونو د رعایت ترڅنګ، د شخړو په کمولو، د ملي یووالي په پیاوړتیا او د سولې، وروروالۍ او متقابل منلو پر بنسټ د یوې ټولنې په رامنځته کولو کې مهم نقش لري. د قومونو او کورنیو ترمنځ سوله د ټولنیز ثبات بنسټ او په هېواد کې د یووالي او وروروالۍ د ټینګښت مهم عامل دی.

مولوي نعیم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

سرمقاله

از رسیدگی به شکایات تا تأمین عدالت؛ حمایت از حقوق شرعی زنان

...که با آگاهی‌دهی و رسیدگی به‌موقع می‌توان از پیامدهای ناگوار آن بر زندگی افراد و روابط خانوادگی جلوگیری کرد. در کنار رسیدگی به شکایات، آگاهی‌دهی درباره احکام شرعی و اصلاح رسوم نادرست اهمیت ویژه دارد. علما، بزرگان قومی، مسئولان محلی و خانواده‌ها می‌توانند با روشنگری و ترویج فرهنگ رعایت حقوق متقابل، در پیشگیری از اختلافات و حل‌وفصل مسالمت‌آمیز مشکلات سهم بگیرند. همچنان، پیگیری قضایا و اطمینان از رسیدگی عادلانه به آن‌ها، زمینه اعتماد بیشتر مردم به روند رسیدگی به شکایات را فراهم می‌سازد.

رسیدگی به ۹۳۸ قضیه در جریان یک ماه، افزون بر نشان‌دادن حجم مشکلات مطرح‌شده، بر ضرورت تداوم نظارت، آگاهی‌دهی و پیگیری مؤثر این‌گونه موارد تأکید می‌کند. ارزیابی نتایج رسیدگی‌ها و تلاش برای جلوگیری از تکرار تخلفات نیز می‌تواند در بهبود وضعیت حقوق و اجتماعی خانواده‌ها مؤثر واقع شود.

در نهایت، رعایت حقوق شرعی زنان، جلوگیری از اجبار و ظلم و حل عادلانه اختلافات، تنها به رفع مشکلات فردی محدود نمی‌شود؛ بلکه در تحکیم خانواده، گسترش عدالت اجتماعی و تقویت اعتماد میان مردم و نهادهای مسئول نیز نقش دارد. هر اندازه آگاهی از احکام شریعت افزایش یابد و حقوق مشروع افراد بهتر رعایت شود، زمینه برای شکل‌گیری خانواده‌های باثبات‌تر و جامعه‌ای برخوردار از عدالت و آرامش بیشتر فراهم خواهد شد.

از اصلاح جامعه تا حل منازعات و حمایت از حقوق...

...به حقوق شرعی زنان، اقدامات متعددی را در مرکز و ولایات انجام داده‌اند.

بر اساس معلومات این وزارت، محتسبین و مبلغین در جریان ماه یادشده، ۲۴۵۸ نشست اصلاحی و آگاهی‌دهی را با علمای کرام، بزرگان قومی، وکلای گذر و اقشار مختلف جامعه برگزار کرده‌اند. هدف از این نشست‌ها، ترویج معروفات، جلوگیری از منکرات، اصلاح رسوم ناپسند و افزایش آگاهی مردم در زمینه رعایت ارزش‌های اسلامی عنوان شده است.

همچنان، محتسبین نظامی این وزارت با نظارت از صدها نهاد نظامی در کابل و ولایات، نشست‌های اصلاحی و آگاهی‌دهی را با مسئولان و مجاهدین برگزار کرده‌اند. این اقدامات در راستای تطبیق قانون امر بالمعروف، نهی عن المنکر و فرامین عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله انجام شده است.

در بخش معاملات تجارتی نیز، نزدیک به یک‌هزار نشست اصلاحی و آگاهی‌دهی با تاجران و دکانداران برگزار شده است. در این نشست‌ها، بر رعایت اصول شرعی در دادوستد، پرهیز از فریب، خیانت و کم‌فروشی و توجه به معیارهای اسلامی در معاملات تأکید شده است. افزون بر این، بیش از ۲۰ تُن مواد غذایی و غیرغذایی بی‌کیفیت و تاریخ‌گذشته از بازارها جمع‌آوری و از بین برده شده است.

در بخش مبارزه با اعمال سحر و جادوگری، محتسبین این وزارت در جریان ماه میزان سال روان، تعداد ۵۲ تن را در مرکز و شماری از ولایات بازداشت و به‌منظور اتخاذ تصمیم شرعی به نهادهای عدلی و قضایی معرفی کرده‌اند.

در بخش حل منازعات نیز، محتسبین با همکاری علمای دین و بزرگان قومی، ۴۸ مورد دشمنی دیرینه و ۲۵۲ مورد منازعات خانوادگی، قومی و محلی را حل‌وفصل کرده‌اند. این اقدامات با هدف کاهش اختلافات، برقراری صلح و آشتی میان طرف‌های درگیر و تقویت همبستگی اجتماعی انجام شده است.

بر اساس معلومات ارائه‌شده، محتسبین وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در جریان ماه میزان به ۹۳۸ قضیه مرتبط با حقوق شرعی زنان رسیدگی کرده‌اند. این قضایا شامل ظلم، نکاح اجباری، میراث، مهریه، نفقه، بد دادن دختران و طلاق بوده و به‌منظور رسیدگی به مشکلات مطرح‌شده، اقدامات لازم روی دست گرفته شده است.

افتتاح و بهره‌برداری پنج سبزخانه به‌منظور تقویت تولیدات زراعتی در فاریاب

پنج سبزخانه با همکاری دفتر ورلدویژن در هماهنگی ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت فاریاب در چارچوب پروژه مصونیت غذایی در ولسوالی چهلگزی این ولایت اعمار و به بهره‌برداری سپرده شد.

بر اساس معلومات ارائه شده، مساحت هر سبزخانه ۳۰۶ متر مربع است و در هر یک از آن‌ها سه دهقان به‌گونه شراکتی فعالیت می‌کنند. هزینه احداث هر سبزخانه بیش از ۴۰۰ هزار افغانی گزارش شده است.

این سبزخانه‌ها به‌منظور افزایش تولیدات زراعتی، فراهم‌سازی فرصت‌های کاری و بهبود وضعیت اقتصادی دهقانان و مصونیت غذایی خانواده‌های مستفیدشونده در این ولسوالی انجام شده است.

د پانګونې زر فرصتونه؛ د اقتصادي ځان‌بسیاینې او پرمختګ پر لور هیله‌بښونکی ګام

د هېوادونو اقتصادي پرمختک د خپلو سرچینو په کارونې، د کورنۍ تولید په پیاوړتیا، د پانګونې د زمینې په برابرولو او د اقتصادي فعالیتونو په پراختیا پورې تړلی دی. افغانستان هم د اسلامي امارت تر چتر لاندې د اقتصادي ودې، بیارغونې، ځان‌بسیاینې او د کورنۍ سرچینو د اغېزناکې کارونې لپاره هڅې کوي. په همدې لړ کې، په لسو سکټورونو کې د پانګونې د زرو (۱۰۰۰) فرصتونو معرفي کول د هېواد د اقتصادي ظرفیتونو د فعالولو او د تولیدي اقتصاد د پراختیا لپاره یو مهم او هیله‌بښونکی ګام دی.

دغه نوښت د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوړې په داسې حال کې ترسره شوی چې افغانستان د کورنۍ تولید د پراختیا، د وارداتو د کمولو، د کارې فرصتونو د رامنځته کولو او د اقتصادي فعالیتونو د پراخولو لپاره د پام وړ ظرفیتونه لري. د پانګونې د فرصتونو پېژندل او له خصوصي سکټور سره یې شریکول کولای شي د دغو ظرفیتونو د عملي کولو زمینه برابره کړي او د اقتصادي پرمختک په بهیر کې د دولتي ادارو او پانګه‌والو ترمنځ همغږي پیاوړې کړي.

افغانستان هر کال شاوخوا ۱۱ میلیارد ډالرو په ارزښت توکي واردوي چې ډېره برخه یې ماشین‌آلات او خام مواد جوړوي. دغه وضعیت له یوې خوا د هېواد د وارداتي اړتیاوو ځرکندونه کوي او له بلې خوا د کورنۍ صنعت، تولیدي فابریکو او د خامو موادو د پروسس په برخو کې د پانګونې پراخ فرصتونه په ګوته کوي.

که د وارداتي توکو یوه برخه په هېواد کې دننه تولید شي، خام مواد په کورنیو فابریکو کې پروسس او په ارزښت لرونکو محصولاتو بدل شي، نو د تولیدي ظرفیتونو د پراختیا ترڅنګ به د بهرنیو بازارونو پر وراندې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کورنۍ بدیلونه هم رامنځته شي. دغه بهیر کولای شي د پانګې د دوران، د کاري فرصتونو د زیاتوالي او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره مناسبه زمینه برابره کړي.

د اسلامي امارت د اقتصادي پالیسۍ له مهمو موخو څخه د هېواد د اقتصادي ودې، ځان‌بسیاینې او د کورنیو سرچینو د موثره کارونې پیاوړتیا ده. د دغو موخو د تحقق لپاره اړینه ده چې پانګونه په هغو برخو کې متمرکزه شي چې هېواد ورته اړتیا لري، د ودې او تولید وړتیا ولري او د کورنۍ بازار د اړتیاوو په پوره کولو کې اغېزمن رول ولوبولای شي.

په دې برخه کې د کرنیزو محصولاتو پروسس، د کورنیو خامو موادو صنعتي کول، د تولیدي فابریکو جوړول او د معیاري محصولاتو وراندې کول هغه مهم فرصتونه دي چې د اقتصادي ودې او د وارداتو د کمولو لپاره خورا مهم تمامېدای شي.

د پانګونې د زرو فرصتونو معرفي کول د خصوصي سکټور د فعالیتونو د پراختیا او د هېواد په اقتصادي پرمختک کې د هغه د وندې د پیاوړتیا لپاره هم ځانګړی ارزښت لري. خصوصي سکټور کولای شي د پانګې، تخصص، نوښت او تولیدي فعالیتونو له لارې د هېواد د اقتصادي ظرفیتونو په فعالولو کې مهم رول ولوبوي.

د اسلامي امارت د اقتصادي تګلارې په رڼا کې، د دولتي ادارو او خصوصي سکټور ترمنځ همغږي، د پانګونې لپاره د مناسبو شرایطو برابرول او د اقتصادي فعالیتونو ملاتړ د تولیدي اقتصاد د پیاوړتیا مهمې اړتیاوې دي. هر څومره چې پانګه‌وال د خپلو فعالیتونو لپاره روښانه فرصتونه، اړین معلومات او مناسبې اسانتیاوې ولري، هماغومره د پانګونې د پراختیا او د اقتصادي پروژو د عملي کېدو امکانات زیاتېږي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوړې د پانګونې د فرصتونو معرفي کول په همدې لاره کې یو مثبت اقدام دی؛ ځکه د اقتصادي اړتیاوو او موجودو فرصتونو پېژندنه پانګه‌والو ته دا امکان برابروي چې خپلې پانګې په هغو برخو کې ولګوي چې د هېواد له اقتصادي لومړیتوبونو سره سمون لري.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، د پانګونې د جلب او جذب لپاره د بین‌الوزارتي کمېټې له جوړېدو راهیسې د ۴۳ میلیارد افغانیو په ارزښت پانګونه شوې ده. دغه شمېره د پانګونې د جذب په برخه کې د ترسره شویو هڅو ځرګندونه کوي او د اقتصادي فعالیتونو د لا پراختیا لپاره د دوامدارې همغږۍ اهمیت په ډاګه کوي.

د پانګونې د فرصتونو معرفي کول د اقتصادي پرمختک د بهیر یوه مهمه برخه ده؛ خو د دې بهیر د اغېزمنتیا لپاره اړینه ده چې معرفي شوي فرصتونه په عملي پروژو بدل شي، د پانګه‌والو ستونزې په منظم ډول وڅېړل شي او د اړوندو دولتي ادارو ترمنځ همغږي دوام وموميِ.

د افغانستان د کرنې او مالدارۍ خونې، د کسبګرو او دوکاندارانو خونې، د سوداګرۍ او پانګونې خونې او د صنعت او کانونو خونې د پانګونې د زرو فرصتونو له معرفي کېدو هرکلی کړی او د همکارۍ ژمنه یې څرګنده کړې ده. د دغو خونو له لوري له خپلو غړو سره د فرصتونو شریکول او د اړوندو وېب‌پاڼو له لارې د معلوماتو خپرول کولای شي د پانګونې په اړه د معلوماتو لاسرسی پراخ کړي. سربېره پردې، د خصوصي سکټور د بېلابېلو برخو ترمنځ همغږي دا زمینه برابروي چې پانګه‌وال د خپلو فعالیتونو له ساحې سره سم فرصتونه وپېژني، اړین معلومات ترلاسه کړي او د اقتصادي پروژو د عملي کولو لپاره مناسبې لارې وموميِ.

ځان‌بسیاینه د یوه هېواد له اقتصادي ځواک، د خپلو سرچینو له سمې کارونې او د اساسي اړتیاوو د پوره کولو له وړتیا سره مستقیم تړاو لري. د افغانستان لپاره هم د کورنۍ تولید پراختیا، د تولیدي فابریکو جوړول، د کرنې او صنعت ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا او د کورنیو خامو موادو پروسس کولای شي د اقتصادي ځان‌بسیاینې پر لور د پرمختک زمینه برابره کړي. کله چې په هېواد کې تولیدي فعالیتونه پراخ شي، د کارموندنې فرصتونه زیاتېږي، د خلکو مسلکي وړتیاوې وده کوي او د اقتصادي فعالیتونو ساحه پراخېږي. دغه بهیر د کورنیو د عوایدو د زیاتوالي او د خلکو د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو لپاره هم زمینه برابرولای شي.

د اسلامي امارت د اقتصادي پالیسۍ په چوکاټ کې د هېواد ابادي، د خلکو د اقتصادي اړتیاوو پوره کول، د کورنۍ سرچینو ساتنه او کارونه او د تولیدي فعالیتونو پراختیا هغه مهم اهداف دي چې د دولتي ادارو، خصوصي سکټور او خلکو ګډو هڅو ته اړتیا لري.

د پانګونې د زرو فرصتونو معرفي کول په دې برخه کې د اقتصادي امکاناتو د پېژندلو او د هغوی د عملي کولو لپاره یو مناسب پیل دی. د دې نوښت برېا به په دې پورې تړلې وي چې پانګه‌وال څومره له دغو فرصتونو کټه اخلي، څومره پروژې عملي کېږي او دغه پانګونې د تولید، کارموندنې او اقتصادي ځان‌بسیاینې په برخه کې کومې پایلې رامنځته کوي.

د هېواد د اقتصادي پرمختک لپاره یوازې د فرصتونو پېژندل بسنه نه کوي، بلکې د هغو عملي کول، د پانګه‌والو ملاتړ، د اړوندو ادارو ترمنځ همغږي او د پروژو د پایلو ارزونه هم اړینه ده. د پانګونې اغېز باید د تولید د زیاتوالي، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو، د کورنیو محصولاتو د کیفیت د ښه کېدو او د خلکو د اقتصادي اړتیاوو د پوره کېدو له مخې وارزول شي.

افغانستان د طبیعي سرچینو، کرنیزو امکاناتو، بشري ځواک او د تولید د پراختیا لپاره د پام وړ ظرفیتونه لري. د دغو ظرفیتونو ښه کارونه کولای شي د هېواد اقتصادي بنسټونه پیاوړي او د اوږدمهاله پرمختک لپاره مناسب شرایط برابر کړي.

په ټوله کې، د پانګونې د زرو فرصتونو معرفي کول د اقتصادي ځان‌بسیاینې، کورنۍ تولید او ملي پرمختک پر لور یو هیله‌بښونکی ګام دی. که دغه فرصتونه د دولتي ادارو او خصوصي سکټور په ګډو هڅو په عملي پروژو بدل شي، د افغانستان د تولیدي ظرفیتونو د پراختیا، د کاري فرصتونو د زیاتوالي او د خلکو د اقتصادي هوساینې لپاره به تر ډېره ښه زمینه برابره کړي.

اولویت‌های وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد

ششمین نشست شریک ساختن اولویت‌های ادارات سکتوری افغانستان با نمایندگان تمویل‌کنندگان، مؤسسات بین‌المللی، سازمان ملل متحد و شرکای انکشافی، به رهبری ریاست روابط عامه معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء در قصر مرمرین برگزار شد.

در این نشست، اولویت‌های وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد. این اولویت‌ها شامل فراهم‌ساختن سرپناه دایمی برای مهاجرین و عودت‌کنندگان، دسترسی به خدمات آموزشی و صحی، ایجاد فرصت‌های کاری، رساندن کمک‌های اولیه بشری به آنان و شماری از بخش‌های دیگر بود.

این اولویت‌ها با درنظرداشت وضعیت کنونی مهاجرین و عودت‌کنندگان در کشور مشخص شده‌اند تا کمک‌های آینده و همکاری‌های انکشافی نهادهای تمویل‌کننده و مؤسسات بین‌المللی تا حد امکان در چارچوب همین اولویت‌ها تنظیم و هماهنگ شوند.

نمایندگان نهادهای تمویل‌کننده و مؤسسات بین‌المللی از معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء و وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان به‌خاطر شریک‌ساختن این اولویت‌ها با آنان، قدردانی کردند. آنان افزودند که کمک‌ها و همکاری‌های آینده خود را با درنظرداشت همین اولویت‌ها تنظیم خواهند کرد.



Issue #124

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

Procurement Commission Approves 17 Projects Worth Around AFN 5 Billion

A regular meeting of the Procurement Commission, chaired by the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, was held at the Marmarin Palace.
Twenty-nine projects were presented for discussion. After thorough consideration, 17 projects worth around AFN 5 billion were approved, and required amendments were approved for five other projects.
Committees were also assigned to negotiate project prices with the winning and eligible companies for four projects and submit their reports to the Procurement Commission's leadership.
Two projects were sent back to open bidding because of performance deficiencies by the winning companies, which were referred to the Debarment Committee. In addition, one project was sent back to open bidding so it could be awarded to a qualified and eligible company...ContP#4

Rehabilitation of 10 Educational Facilities Begins in Kunar Province



Rehabilitation and reconstruction work has begun on several schools and madrasa buildings in Kunar Province, funded by the Ministry of Education at a total cost of AFN 4,856,825.
The projects include the rehabilitation of the central high school in Watapur District; the central high school in Ghaziabad District; leveling the courtyard of Dam village middle school in Asadabad; renovating the central madrasa in Shigal District; the Shabal Middle School in Barkunar District; the central high school buildings in Manawara District; the religious madrasa in Khas Kunar District; the Lodam Middle School in Nurgal District; and the Mullah Gori Primary School in Sarkano District.



Herat Chamber of Industry and Mines Records a 97% Increase in Exports



The head of the Herat Chamber of Industry and Mines said the chamber's exports have increased by 97 percent compared with the previous month. According to officials, these exports included manufactured tankers, batteries, mineral stones, steam boilers, cakes and biscuits.
Officials from the Chambers of Agriculture and Livestock, as well as the Chamber of Craftsmen, have also reported an increase in agricultural exports and the expansion of production workshops in the province. According to officials from the Herat Chamber of Agriculture and Livestock, approximately 41 types of agricultural and livestock products were exported from the province to various countries over the past month.
At the same time, officials from the Chamber of Craftsmen have reported increased activity among small-scale production workshops. They say that improvements in industrial facilities have encouraged investors to show greater interest in investing in this sector.
Separately, a number of industrialists have welcomed the facilities introduced in transportation, land allocation and mining contracts. They emphasized expanding these facilities could pave the way for increased investment and the development of industrial activities in Herat.
According to the information provided, the Islamic Emirate has recently decided to abolish the requirement to pay guarantee deposits for industrial activities in the country.
Source: Bakhtar News Agency

Construction of Road Construction in Logar Reaches 42 Percent Completion



An engineering team from the Directorate of Urban Development and Housing in Logar Province inspected construction work on the road extending from the market in Baraki Barak District to the Sheikh Khel area.
According to the information, physical progress on the road construction project has reached approximately 42 percent.
The road is nine kilometers long, and its total construction cost has been estimated at AFN 106,396,262. The project is being funded through the development budget of the Ministry of Rural Rehabilitation and Development.
It is worth noting that the project is being monitored continuously to ensure that construction proceeds in accordance with the approved plan and technical standards.

Maidan Wardak Advances Agriculture with 19 Completed Projects



The Directorate of Agriculture, Irrigation and Livestock of Maidan Wardak said that the...ContP#4

Procurement Commission Approves 17 Projects Worth Around...

...The approved projects include construction work at the Aqina Customs facility; rehabilitation of the first section of the main highway from the Helmand crossroads to Herat; expansion of the 220-kilovolt line at Nangarhar's Hesar Shahi substation; construction of a 40-megavolt-ampere substation to transmit power to the gas plant in the Yatim Taq area of Jawzjan; construction of several roads in Kabul; and implementation of several electricity supply and distribution projects in various provinces.

Maidan Wardak Advances Agriculture with 19...



...construction of 19 agricultural development projects, aimed at developing agricultural infrastructure, strengthening irrigation systems and addressing the challenges faced by farmers and orchardists, funded by DACAAR, have been completed and handed over for use in various villages of Daimirdad district of Wardak province.
According to the information, the projects included the construction of canals, water outlets, retaining walls and irrigation canals.
The construction work of these projects has been completed, and the facilities have been handed over for use by local farmers and orchardists.
The projects were implemented in the areas of Nazak Khel, Kariz, Chato, Changa, Durrani, Bara Changa, Adal Baik, Ahmad Khel, Pira Sultan Khel, Ormur, Ibrahim Zai, Hajika, Para Qala, Qol Zangi, Bakhshak, Badawar, Lalander and Dashtaka in Daimirdad District.
The completion of these projects is expected to reduce water losses in irrigation systems, improve water delivery to agricultural land and create better opportunities for farmers and orchardists to expand their agricultural activities.
Meanwhile, farmers, orchardists and local residents have expressed satisfaction with the completion and emphasized that these projects will further enhance agriculture and farming activities in the district.
It is worth noting that the Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock has begun implementation of various projects across the country in coordination with partner organizations and funding agencies.
These initiatives focus on developing agricultural infrastructure, rehabilitating irrigation networks, preventing water losses and supporting farmers. The overarching objectives are to ensure the efficient use of water resources, increase agricultural production, improve farmers' economic conditions and promote sustainable development.



Work Begins on Industrial Park in Farah

Officials of the Farah Directorate of Industry and Commerce say work has begun on demarcating plots for an industrial park in the province.
Mawlavi Mohammad Qasim Mohammad, head of the Farah Directorate of Industry and Commerce, told Bakhtar News Agency that a technical team arriving from the capital had begun plot demarcation across 1,000 jeribs of land at the industrial park in Mohammadabad, Shaib Koh District.
He added that the purpose of this work is to map out the industrial park, pave the way for subsequent development activities, designate areas for different sectors and establish an orderly layout, enabling factories and service centers to operate more efficiently and securely.
Mawlavi Mohammad Qasim Mohammad further stated that the industrial park would create a favorable environment for investment, provide employment opportunities for young people and unemployed individuals, ensure more effective use of available resources and contribute to strengthening the provincial economy.
Source: Bakhtar News Agency

Construction of Three Projects Worth USD 226,000 Begins in Paktia

Officials of the Paktia Directorate of Rural Rehabilitation and Development said construction has begun on three check dams at a total cost of USD 226,000, with financial support from the United Nations Office for Project Services (UNOPS).
Mawlavi Enayat Rahman Jalali, Director of Rural Rehabilitation and Development, said that two check dams are being constructed in the Mahlan and Dawlatzai areas of Gardez, the provincial capital, while the third is being built in Sayid Karam District.
During the launch of the projects, Paktia Deputy Governor Mawlavi Mohammad Anwar Din Parwar said the construction work would be completed on schedule and to a high standard of quality.
According to officials, the projects have created employment opportunities for hundreds of people and are expected to be completed within three months.
Local residents said the implementation of these projects will largely address their water-related challenges and enable them to make better use of water resources.
Officials added that the three check dams have a combined storage capacity of thousands of cubic meters of water. They are expected to play a significant role in preventing water wastage and ensuring that local communities can use water resources in a more organized manner.
Source: Bakhtar News Agency

From Social Reform to Dispute Resolution and the Protection of Women's Sharia Rights

The Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling, said its inspectors (Muhtasebin) carried out various activities across the capital and provinces during Mizan 1405 (Solar Hijri), focusing on social reform, public awareness, preventing sorcery, resolving disputes, and safeguarding women's Sharia rights.
According to information, the inspectors held 2,458 reform and public-awareness meetings during the month with religious scholars, tribal elders, community representatives and various segments of society with the aim to promote virtuous conduct, prevent prohibited practices, reform undesirable customs and raise public awareness of adherence to Islamic values.
The ministry's military inspectors also inspected hundreds of military institutions in Kabul and the provinces and held reform and awareness-raising meetings with officials and Mujahideen.
These activities were carried out as part of efforts to implement the Law on the Promotion of Virtue and Prevention of Vice and the decrees of the Supreme Leader of the Islamic Emirate of Afghanistan.
In the commercial sector, nearly 1,000 reform and public-awareness meetings were conducted with traders and shopkeepers. The meetings emphasized compliance with Sharia principles in commercial transactions, avoidance of deception, dishonesty and short-changing customers, and adherence to Islamic standards in business dealings. In addition, more than 20 tons of substandard and expired food and non-food products were collected from markets and destroyed.
As part of efforts to combat sorcery and witchcraft, the ministry's inspectors arrested 52 people in the capital and several provinces during Mizan of the current year and referred them to judicial and prosecutorial institutions for decisions in accordance with Sharia.
In the area of dispute resolution, the inspectors of the ministry along with religious scholars and tribal elders, resolved 48 cases of long-standing hostility and 252 family, tribal and local disputes. These efforts were aimed at reducing tensions, fostering peace and reconciliation between conflicting parties, and strengthening social cohesion.
According to the information, the inspectors of the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling, addressed 938 cases related to women's Sharia rights during the month of Mizan. These cases involved oppression, forced marriage, inheritance, dowry, maintenance, the practice of giving girls away to settle disputes, and divorce. The ministry said the necessary measures had been taken to address the problems raised.

په ننګرهار کې د دوو کورنیو ترمنځ ۲۷ کلنه شخړه...

...جرګه کوونکو د موضوع له بشپړې څېړنې او د دواړو لورو له څرګندونو وروسته، د شرعي اصولو او قومي دودونو په رنا کې د شخړې د هواري لپاره لازمې خبرې او هڅې وکړې، د یادې شخړه د حل په موخه یې پریکړه اعلان کړه او له دواړو کورنیو وغوښتل، چې د رامنځته شوي جوړجاړي درناوی وکړي، تېرې ستونزې هېرې او له یو بل سره د متقابل درناوي پر بنسټ خپل ژوند ته دوام ورکړي.

په پای کې دواړو کورنیو د جرګه کوونکو له هڅو مننه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې له دې وروسته به د یو بل پر وړاندې له هر ډول شخړې او ستونزې ډډه کوي او د جوړجاړي پر بنسټ به خپل ژوند ته دوام ورکوي.

میدان وردګو کې د کرنیزو زېربناوو د پراختیا ۱۹ پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې...

...د میدان وردګو د کرنې ریاست وایي، چې د دې ولایت د دایمیرداد ولسوالی په ببلابېلو کلیو کې د کرنیزو زېربناوو د پراختیا، د اوبولګولو د سیستمونو د پیاوړتیا او د کروندګرو او بنوالو د ستونزو د هواري په موخه د «ډاکار»مؤسسې له لوري ۱۹ ودانیزې او کرنیزې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

دغه پروژې د میدان وردګو د کرنې، اوبولګولو او مالداری ریاست په همغږۍ او د «ډاکار» مؤسسې له لوري د دایمیرداد ولسوالی په ببلابېلو سیمو کې پلې شوې دي، چې موخه یې د اوبولګولو د اسانتیاوو برابرول، د کرنیزو ځمکو ساتنه، د اوبو د ضایعاتو کمول او د کرنیزو فعالیتونو د پراختیا لپاره د مناسبو شرایطو رامنځته کول دي.

د دایمیرداد ولسوالی د کرنیزو چارو مدیریت د معلوماتو له مخې، په دغو پروژو کې د سرپټو کانالونو، ورخونو، استنادي دېوالونو او د اوبولګولو د لښتیو جوړول شامل دي، چې ټول ودانیزې چارې یې بشپړ شوي او د سیمې د کروندګرو او باغدارانو ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

یادې پروژې د دایمیرداد ولسوالی په نازک‌خېل، کاریز، چتو، چنکه، دوراني، بره چنکه، عادلبېک، احمدخېل، پیره سلطان‌خېل، اورمر، ابراهیم‌زي، حاجیکه، پاره قلعه، قول‌زنګي، بخشک، بدور، للندر او دښتکي سیمو کې پلې شوې دي.

د دغو پروژو په چوکاټ کې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره سرپټي کانالونه او لښتي جوړ شوي، د اوبو د منظم وېش او کنټرول په موخه ورخونه رغول شوي او د اوبو د مسیرونو د تنظیم، د خاورې د تخریب د مخنیوي او د کرنیزو ځمکو د ساتنې لپاره استنادي دېوالونه جوړ شوي دي.

تمه ده، چې د دغو پروژو په بشپړېدو سره به د اوبولګولو په سیستمونو کې د اوبو د ضایعاتو کچه راټیټه، کرنیزو ځمکو ته به د اوبو رسولو بهیر ښه او د کروندګرو او باغدارانو لپاره به د کرنیزو فعالیتونو د پراختیا زمینه لا برابره شي.

بلخوا، د یادو سیمو کروندګرو، بنوالو او اوسېدونکو د دغو پروژو له بشپړېدو خوښي څرګنده کړې او د میدان وردګو د کرنې، اوبولګولو او مالداری ریاست او ډاکار مؤسسې له هڅو یې مننه کړې ده.

د یادونې وړ ده، چې د کرنې، اوبولګولو او مالداری وزارت د هېواد په ببلابېلو ولایتونو کې د همکارو مؤسسو او پراختیایي بنسټونو په همغږۍ د کرنیزو زېربناوو د رغونې، د اوبولګولو د شبکو د بیارغونې، د اوبو د ضایعاتو د مخنیوي او د کروندګرو د ملاتړ په موخه ببلابېلې پروژې پلې کوي. د دغو هڅو اساسي موخه د اوبو د سرچینو اغېزمنه کټه اخیستنه، د کرنیزو حاصلاتو زیاتوالی، د کروندګرو د اقتصادي وضعیت ښه‌والی او د هېواد د کرنې سکتور دوامداره پراختیا ده.

آغاز کار ترمیم ۱۰ مرکز آموزشی به هزینه نزدیک...

...کار ترمیم و بازسازی شماری از ساختمان‌های مکاتب و مدارس در مربوطات ولایت کنر، به هزینه مجموعی ۴ میلیون و ۸۵۶ هزار و ۸۲۵ افغانی، از بودجه وزارت معارف آغاز شده است.

پروژه‌های یادشده شامل ترمیم ساختمان لیسه مرکزی ولسوالی وته‌پور، ترمیم لیسه مرکزی ولسوالی غازی‌آباد، هموارکاری حویلی مکتب متوسطه قریه دم درشهر اسعدآباد، ترمیم ساختمان مدرسه مرکزی ولسوالی شیگل، ترمیم مکتب متوسطه شابل در ولسوالی برکنر، ترمیم ساختمان‌های لیسه مرکزی ولسوالی منوره، ترمیم ساختمان مدرسه دینی ولسوالی خاص کنر، ترمیم مکتب متوسطه لودم در ولسوالی نورګل و ترمیم مکتب ابتدائیه ملاګوری در ولسوالی سرکانو می‌باشد.

کمیسیون تدارکات ۱۷ پروژه را به ارزش حدود پنج میلیارد...

...همچنین، دو پروژه به دلیل نواقص کاری شرکت های برنده، دوباره به داوطلبی آزاد گذاشته شد و این شرکت ها به کمیته محرومیت معرفی شدند. علاوه بر این، یک پروژه به منظور واگذاری به شرکت مناسب و واجد شرایط ، دوباره به داوطلبی آزاد گذاشته شد.

پروژه های منظورشده شامل اعمار بخش هایی از گمرک آقینه، بازسازی بخش اول شاهراه عمومی از دوراهی هلمند تا هرات، توسعه لین ۲۲۰ کیلوولت سب استیشن حصار شاهی ننگرهار، اعمار سب استیشن ۴۰ میگاولت آمپیر برای انتقال انرژی فابریکه گاز منطقه یتیم تاق جوزجان، اعمار شماری از سرک ها در شهر کابل و تطبیق شماری از پروژه های انتقال و توزیع برق در ولایت های مختلف کشور میباشد.

توزیع تخم‌های اصلاح‌شده گندم و کود کیمیاوی؛ گامی در راستای افزایش حاصلات زراعتی و تقویت امنیت...



...از مجموع سهمیه تعیین‌شده، یک‌هزار سهم به مرکز لوگر، یک‌هزار و ۵۰۰ سهم به ولسوالی محمدآغه، ۳۹۰ سهم به ولسوالی برکی‌برک و ۱۱۰ سهم به ولسوالی چرخ اختصاص یافته است. مسئولان محلی، توزیع این کمک ها را در بهبود حاصلات گندم و تقویت اقتصاد خانواده‌های دهقان مهم می‌دانند.

همچنان در ولایت دایکندی، روند توزیع تخم اصلاح‌شده گندم و کودهای کیمیاوی سیاه و سفید با همکاری سازمان خوراک و زراعت ملل متحد آغاز شده است. قرار است در چارچوب این برنامه، سه‌هزار و ۶۶۱ دهقان از مجموع ۵۲۹,۲۷ تُن متریک تخم اصلاح‌شده و کود کیمیاوی مستفید شوند. این روند در ولسوالی پاتو آغاز شده و برای ۵۰۰ دهقان این ولسوالی کمک‌های زراعتی توزیع خواهد شد.

در ولایت بدخشان نیز توزیع تخم اصلاح‌شده بذری گندم و کود کیمیاوی برای ۶۷۵ دهقان واجد شرایط در ولسوالی اشکاشم، از سوی موسسه سو و با حمایت مالی سازمان خوراک و زراعت ملل متحد، آغاز شده است. این برنامه با هماهنگی مدیریت خدمات زراعتی ولسوالی یادشده تطبیق می‌شود و هدف آن حمایت از دهقانان و تقویت فعالیت‌های زراعتی در منطقه است.

در ولایت پروان، برای یک‌هزار و ۵۰۰ دهقان واجد شرایط در ولسوالی جبل‌السراج تخم اصلاح‌شده بذری گندم توزیع می‌شود. این برنامه با همکاری مؤسسه شلتر فار لایف تطبیق می‌گردد و بر اساس آن، هر دهقان در بدل پرداخت ۸۰۰ افغانی سهم تعیین‌شده، ۵۰ کیلوگرام تخم اصلاح‌شده گندم دریافت می‌کند. ترویج استفاده از تخم‌های معیاری و افزایش تولید گندم از اهداف اساسی این برنامه عنوان شده است.

در پنجشیر، روند توزیع تخم اصلاح‌شده گندم و کودهای کیمیاوی برای ۵۰۰ دهقان در ولسوالی شتل آغاز شده است. این برنامه از سوی مؤسسه ارتقای اجتماعی و با حمایت مالی سازمان خوراک و زراعت ملل متحد تطبیق می‌شود. بر اساس برنامه، به هر دهقان مستحق یک بوری تخم اصلاح‌شده گندم، یک بوری کود سیاه و یک بوری کود سفید توزیع می‌شود. قرار است در مرحله بعدی، همین روند برای ۵۰۰ دهقان دیگر در ولسوالی پریان نیز آغاز شود و با تکمیل آن، شمار مستفیدشوندگان در این دو ولسوالی به یک‌هزار تن برسد.

در جوزجان نیز ریاست زراعت، آبیاری و مالداری با همکاری مؤسسه اکتید برای ۳۰ دهقان پیشقدم در مرکز شبرغان و ولسوالی‌های آقچه، خانقاه و خواجه دوکوه تخم اصلاح‌شده گندم و کودهای کیمیاوی توزیع کرده است. بسته‌های توزیع‌شده برای هر دهقان شامل ۵۰ کیلوگرام تخم اصلاح‌شده گندم، ۵۰ کیلوگرام کود دی‌ای‌پی و ۵۰ کیلوگرام کود یوریا است.

همچنان در کاپیسا، به‌منظور ترویج شیوه‌های معیاری کشت گندم و ایجاد قطعات نمایشی زراعتی، برای ۱۵ دهقان از مرکز و ولسوالی‌های این ولایت تخم اصلاح‌شده گندم و کودهای کیمیاوی توزیع شده است. سهم هر دهقان شامل ۱۶ کیلوگرام تخم اصلاح‌شده گندم، ۵۰ کیلوگرام کود یوریا و ۲۵ کیلوگرام کود دی‌ای‌پی می‌شود. ایجاد قطعات نمایشی، ترویج کشت گندم به روش قطار، افزایش حاصل در هر جریب زمین و جلوگیری از گسترش آفات و امراض نباتی از اهداف این برنامه است.

این برنامه‌ها در حالی تطبیق می‌شوند که دسترسی دهقانان به تخم‌های اصلاح‌شده و کودهای معیاری می‌تواند زمینه افزایش تولیدات زراعتی، استفاده مؤثر از زمین و منابع موجود و بهبود وضعیت اقتصادی خانواده‌های زراعت‌پیشه را فراهم سازد. همچنان ترویج روش‌های بهتر کشت، در کاهش خسارات ناشی از آفات و امراض نباتی و سازگاری بهتر با چالش‌های اقلیمی اهمیت دارد.

تداوم چنین همکاری‌ها میان نهادهای امارتی، مؤسسات همکار و سازمان‌های بین‌المللی، در کنار مدیریت مؤثر منابع آبی و توسعه خدمات ترویجی، می‌تواند به تقویت ظرفیت تولیدی دهقانان، کاهش آسیب‌پذیری معیشتی و بهبود وضعیت امنیت غذایی در کشور کمک کند.

افزایش ۹۷ درصدی صادرات اتاق صنعت و معادن...

...رئیس اتاق صنعت و معادن هرات می‌گوید که میزان صادرات این اتاق در مقایسه با ماه گذشته، ۹۷ درصد افزایش یافته است. به گفته مسئولان، این صادرات شامل تانکرهای ساخته شده، باطری، سنگ های معدنی، دیگ بخار، کیک و بیسکویت بوده است.

هم‌زمان، مسئولان اتاق‌های زراعت و مالداری و پیشه‌وران نیز از افزایش صادرات محصولات زراعتی و گسترش فعالیت کارگاه‌های تولیدی در این ولایت خبر می‌دهند. به گفته مسئولان اتاق زراعت و مالداری هرات، در جریان یک ماه گذشته، حدود ۴۱ نوع محصول زراعتی و مالداری از این ولایت به کشورهای مختلف صادر شده است.

در همین حال، مسئولان اتاق پیشه‌وران از افزایش فعالیت کارگاه‌های کوچک تولیدی خبر داده و می‌گویند که ایجاد سهولت در بخش صنعت، زمینه افزایش علاقه‌مندی سرمایه‌گذاران به فعالیت در این بخش را فراهم کرده است.

از سوی دیگر، شماری از صنعت‌کاران از سهولت‌های ایجادشده در بخش‌های ترانسپورت، توزیع زمین و قراردادهای معادن استقبال کرده و می‌گویند که گسترش این سهولت‌ها می‌تواند زمینه افزایش سرمایه‌گذاری و توسعه فعالیت‌های صنعتی در هرات را فراهم سازد.

بر اساس معلومات ارائه‌شده، امارت اسلامی در تازه‌ترین تصمیم خود، پرداخت پول تضمین برای فعالیت‌های صنعتی در کشور را لغو کرده است.

منبع: آژانس باختر



ارگ نامه

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

جلسۀ کمیسیون اداری تدویر یافت

جلسۀ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با اشتراک اعضای کمیسیون یاد شده تدویر یافت.

در این جلسه نخست هیأت‌های مؤظف راجع به فعالیت‌ها و اجراآت شان در ارتباط به وظایف سپرده شده گزارش ارائه کردند.

سپس روی موضوعات مربوط وزارت‌های معارف و مخابرات و تکنالوژی معلوماتی بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.

در پایان، جهت تدقیق بیشتر روی سایر موضوعات شامل آجندا به کمیته‌های جداگانه وظیفه سپرده شد.

فراه کې د صنعتي ښارګوټي د خط اچونې چارې پیل شوې

فراه د صنعت او سوداګرۍ ریاست مسئولین وایي؛ چې په دغه ولایت کې د صنعتي ښارګوټي د خط اچونې چارې پیل شوې.

فراه د صنعت او سوداګرۍ ریاست رئیس مولوي محمد قاسم محمد باختر خبري آژانس ته وایي؛ چې له پلازمینې څخه د راغلي تخنیکي ټیم له لورې د دغه ولایت د شیبکوه ولسوالي د محمد اباد په صنعتي ښارګوټي کې په ۱۰۰۰ جریبه ځمکه باندې د خط اچونې چارې پیل شوې.

نومورې همدارنکه زیاته کړه، چې د دې کار موخه د صنعتي ښارګوټي نقشه کول، د راتلونکو چارو پیل ته لاره موندل، د بېلابېلو برخو تاکل او د نظم رامنځته کول دي، څو کارخونې او چوپړوال مرکزونه په خورا اغېزمنه او خوندي توګه فعالیت وکړي.

فراه د صنعت او سوداګرۍ ریاست رئیس مولوي محمد قاسم محمد همدارنکه زیاته کړه، چې له صنعتي ښارګوټي سره به د پانګونې لپاره ور چاپېریال رامنځته، د ځوانانو او اوزګارو کسانو ته به کاري فرصتونه برابر، له شته سرچینو څخه به اغېزناکه ګټه پورته او د ولایتي اقتصاد پیاوړتیا به هم وده وکړي.

منبع: باختر آژانس

پکتیا کې د ۲۲۶ زره امریکایي ډالرو په لګښت د دریو پروژو چارې پیل شوې

د پکتیا ولایت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي، چې د ملګرو ملتونو د پروژوي چارو دفتر په مالي ملاتړ د ۲۲۶ زره امریکایي ډالرو په لګښت د دریو چکډیمونو د جوړولو چارې پیل شوې.

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا رئیس مولوي عنایت الرحمن جلالي وایي، چې دوه چکډیمونه په مرکز ګردیز دولت زیو، مهلن او یو په سیدکرم ولسوالۍ کې جوړېږي.

د پکتیا مرستیال والي مولوي محمد انور دین پرور د یاد چکډیمونو د چارو پیل پرمهال ویلي، د دې پروژو چارې به په ټاکلي وخت او لوړ کیفیت ترسره شي.

د مسئولینو په وینا په دې پروژو کې په سلګونه کسانو ته د کار زمینه برابره شوې او ټاکل شوې چې د جوړولو چارې به یې د دریو میاشتو په جریان کې بشپړې شي.

د سیمې اوسیدونکي وایي، چې د دې پروژو عملي کېدو سره به د اوبو په برخه کې د دوی ستونزې تر ډیره حل شي او اوبو څخه به په ښه ډول ګټه واخلي.

چارواکي زیاتوي یاد درې واړه چکډیمونه د زرګونه متر مکعبه اوبو ذخیره کولو ظرفیت لري چې د اوبو بې ځایه ضایع په مخنیوي کې به د پام وړ رول ولري او خلک به ورځې په منظم ډول ګټه واخلي.

منبع: باختر آژانس

افزایش ۹۷ درصدی صادرات اتاق صنعت و معادن هرات



۵

په دایکندي کې د دهن جنګل سیند د غاړو د تحکیم پروژه د ۹.۴ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوه

د دایکندي ولایت د پاتو ولسوالۍ د قخور کلي په سیمه کې د دهن جنګل سیند د دواړو غاړو د تحکیم او د سېلابونو د زیانونو د مخنیوي په موخه د استنادي دېوال جوړولو پروژې چارې د ۹ میلیونه او ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت پیل شوې.

په دې پروژه کې د ۲۵۰ مترو په اوږدوالي د استنادي دېوال جوړول شامل دي.

ټاکل شوې چې د پروژې چارې په پنځو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. همدارنکه، د دې پروژې د پلي کېدو په بهیر کې به یو شمېر کسانو ته د کار زمینه هم برابره شي.

له دې پروژې څخه به ۶۰ کورنۍ په مستقیم ډول ګټه واخلي او د چارو له بشپړېدو سره به یې کرنیزې ځمکې او استوګنیز کورونه د سېلابونو له احتمالي ګواښونو څخه خوندي شي.

آغاز کار ترمیم ۱۰ مرکز آموزشی به هزینه نزدیک به ۵ میلیون افغانی در ولایت کنر



۵

د لوګر ولایت په برکي برک ولسوالۍ کې د سړک جوړولو چارو ۴۲ سلنه پرمختګ کړی



د دایکندي ولایت د پاتو ولسوالۍ د قخور کلي په سیمه کې د دهن جنګل سیند د دواړو غاړو د تحکیم او د سېلابونو د زیانونو د مخنیوي په موخه د استنادي دېوال جوړولو پروژې چارې د ۹ میلیونه او ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت پیل شوې.

په دې پروژه کې د ۲۵۰ مترو په اوږدوالي د استنادي دېوال جوړول شامل دي.

ټاکل شوې چې د پروژې چارې په پنځو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. همدارنکه، د دې پروژې د پلي کېدو په بهیر کې به یو شمېر کسانو ته د کار زمینه هم برابره شي.

له دې پروژې څخه به ۶۰ کورنۍ په مستقیم ډول ګټه واخلي او د چارو له بشپړېدو سره به یې کرنیزې ځمکې او استوګنیز کورونه د سېلابونو له احتمالي ګواښونو څخه خوندي شي.